# تر حج وروسته

## به ژوند څنګه تېروو ؟



تألف

**مولانا محمد رفيع عثماني**

ژباړه

**نويد احمد**

## د كتاب پېژندنه

----------------

د كتاب نوم: تر حج وروسته به ژوند څنګه تېروو؟

تألف: مولانا مفتي محمد رفيع عثماني مد ظله

ژباړه: نويد احمد

كتنپلاوی: قاري مطيع الله ذهين

ترتيب: محمد نبي سلطاني

د چاپ كال: محرم الحرام، ۱۴۳۳، هجري قمري

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰



اړيكي: ۰۷۰۰۳۲۱۴۷۹ او ۰۷۰۰۹۰۶۱۶۲

برېښنا ليک: naveed.ahmad.afg@gmail.com


ناشر: احمد شاهي كتب خانه


**ددې كتاب د چاپ حقوق د خپرونكي سره خوندي دي!**

د تعليم الاسلام ويب پاڼې د همكارانو له خوا پر ليكه كېږي:

www.taleemulislam-radio.com

| شماره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | تقریظ | ۱ |
| ۲ | مسنونه خطبه | ۲ |
| ۳ | سریزه | ۲ |
| ٤ | د حج د ګټو د لاس ته راوړلو لپاره بیت الله ته حاضري ضروري ده | ۳ |
| ٥ | د عبادتونو اغېزې | ۳ |
| ٦ | د حج ګټې یوائې په اورېدولو سره نه معلومېږي | ۴ |
| ٧ | یو مثال | ۶ |
| ٨ | د بیت الله د حج حیرانونکې اغېزې | ۶ |
| ٩ | ساده ګې مګر... | ۷ |
| ۱۰ | حیرانونکې مقناطیسیت | ۷ |
| ۱۱ | ګټه د تقوا او اخلاص په اندازه ده | ۸ |
| ۱۲ | هره پلا نوې ګټه | ۸ |
| ۱۳ | د حج د قبلېدو نخښې | ۹ |
| ١٤ | لومړۍ نخښه | ۹ |
| ١٥ | دوهمه نخښه | ۱۰ |
| ١٦ | دریمه نخښه | ۱۰ |
| ١٧ | هیڅ د مایوسۍ خبره نه ده | ۱۱ |
| ١٨ | د الله تعالې د ولي کېدو اسانه لار | ۱۱ |
| ١٩ | د حج د قبلېدو مطلب | ۱۲ |
| ۲۰ | د شکر کولو ګټې | ۱۲ |
| ۲۱ | ګناه د خوند شی نه ده | ۱۳ |
| ۲۲ | د ګناه د خوند مثال | ۱۴ |
| ۲۳ | انسان د خپل ماحول څخه متاثره کیږي | ۱۴ |
| ۲۴ | د حج اثرات په اصل کې د تقوا کیفیت دئ | ۱۵ |
| ۲۵ | تقوا څنګه وکړو؟ | ۱۶ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲٦ | د قران مجيد ځانګړی اسلوب | ۱۷ |
| ۲۷ | د تقوا د اختيارولو طريقه: د الله د دوستانو سره ناسته | ۱۷ |
| ۲۸ | يوه قيصه | ۱۸ |
| ۲۹ | د الله تعالی دوستان به د قيامت تر ورځې پورې وي | ۲۰ |
| ۳۰ | پر صراط مستقيم يې د الله جل جلاله د دوستانو حواله ورکړې ده | ۲۱ |
| ۳۱ | انعام والا خلک | ۲۱ |
| ۳۲ | د الله تعالی د دوستانو سره د اوسېدو ځانګړې ګټه | ۲۲ |
| ۳۳ | د الله تعالی د دوستانو سره په اوسېدو کې د حج د اثراتو ساتنه | ۲۳ |
| ۳٤ | د څه ډول خلکو مجلس بايد اختيار کړو؟ | ۲۴ |
| ۳۵ | دوهمه طريقه: د تبليغي جماعت سره وخت لګول | ۲۴ |
| ۳٦ | په تبليغ کې د نورو حدودو ساتنه ضروري ده | ۲۵ |
| ۳۷ | د حضرت والد صاحب رحمة الله عليه واقعه | ۲۵ |
| ۳۸ | ورځني کارونه | ۲۷ |
| ۳۹ | په هر حال کې دوه کارونه | ۲۹ |
| ۴۰ | د حرام مال څخه په پوره ډول ځان ساتل ضروري | ۲۹ |

# تقريظ

بسم الله الرحمن الرحيم

**ان الحمد لله نحمده ونصلي على رسوله الكريم و على آل واصحابه حماة الدين المتين وعلى كل تابعهم باحسان الى يوم الدين، امابعد:**

درنو لوستونکو! څرګنده ده چې د ګټې لپاره يوازنی هغه رښتنې لاره ده کومه چې د الله جل جلاله او دده جل جلاله استازي د بشريت ستر کاروان ته ښودلې ده او دا هم جوته ده چې هرڅا چې دغه لاره تعقيب کړې ده، پکښې ستري ګټې يې تر لاسه کړي دي.

دا چې په دغه سلسله کې زما خوږ دوست محترم نويد احمد صاحب د يوه لوی عالم مفتئ محمد رفيع عثماني مدالله يوه رساله په ډېره خوږه ژبه ترجمه کړې ده، الحمد لله په ډېر ښه معيار ده، الله جل جلاله دې اجر ورکړي او الله جل جلاله دې د ټولني د استفادې وړ وګرځوي.

العبد الافقر

مولوي عبدالهادي حماد

د اشرفي مدرسې ناظم

کندهار افغانستان

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## مسنونه خطبه

اَلْحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنوؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَلُ عَلَيْهِ وَنَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيئَاتِ أَعْمَالِنَاَ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلاَ هَا دى لَهُ وَنَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَنَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدِنَا وَ سَنَدَنَا وَ مَوْلاَنَا مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَ عَلَى الِهِ وَصَحْبِهِ اَجْمَعِين. أَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ

(١١٩) د توبې سورت ۱۱۹، ايات

## سريزه

محترمو مشرانو او ګرانو ورڼو! نن په دې غونډه کې هغه ورونه او خويندې ګډون لري چې اوس يې تازه حرمينو (مکې او مدينې) ته حاضري ورکړې ده او بېرته راغلي دي. حج يو داسې حيرانونکی دولت دئ چې د ټولو عباداتو څخه ځانته يو بېل مقام لري.

## د حج د ګټو د لاس ته راوړولو لپاره بیت الله ته حاضري ضروري ده

په اسلام کې ټول عبادتونه د لوړ شان دي او يو د بل څخه لوړوالی لري. د لمانځه، زکات، روژې او همدارنګه د نورو عبادتونو جلا جلا برکتونه او انوار وي چې د دنيا او آخرت پر ژوند باندي د هغو ډېر ژور اثرات لوېږي. او په دې عبادتونو کې د يوه عبادت په کولو سره د بل عبادت ضرورت نه پوره کيږي. که څوک دا وغواړي چې په لمانځه کولو سره دې د روژې اړتيا هم پوره سي نو دا سي نه سي کېدلای. همدارنګه که د چا دا خوښه وي چې په زکات وروکولو سره دې د لمانځه فريضه هم اداء سي نو دا هم نه سي کېدلای.

همدا ډول د حج ګټې هم د نورو عباداتو په کولو سره لاس ته نه راځي بلکې د حج د ګټو د لاس ته راوړولو لپاره دا ضروروي ده تر څو بيت الله شريفي ته ولاړ سو.

## د عبادتونو اغېزې

د هر عبادت يوه جلا ګټه او اثر وي چې د هغه اغېزه د انسان پر زړه او دماغ او د هغه پر اعمالو او اخلاقو لوېږي. په قرانکريم کې د لمانځه يوه مهمه ګټه دا بيان سوې ده چې لمونځ څوک د فحش او بدو کارونو څخه راګرځوي لکه څنګه چې الله تعالي فرمايي:

إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۗ. (سورة عنكبوت ايات ٤٥)[1]

ژباړه: بېله شکه لمونځ د بې حيايي او بدو کارونو څخه څوک راګرځوي.

د روژې دا ګټه بيان سوې ده چې په روژه نيولو سره په انسان کي د تقوا صفت پيدا کيږي لکه څنګه چې الله ﷻ فرمايي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾ (سورت بقر، ايات ١٨٣)

ژباړه: ای مؤمنانو! پر تاسو روژه فرض کړل سوې ده لکه څنګه چې ستاسو څخه پر مخکنيو خلکو باندي فرض کړل سوې وه تر څو په تاسو کي تقوا پيدا سي. يعني د روژې اثر دادئ چې هغه په انسان کي تقوا پيدا کوي او د انسان په زړه کي دا احساس پيدا کيږي چې الله تعالي ماويني. د زکات دا ګټه ذکر سوې ده چې په دې سره مال پاکيږي او په مال کي برکت پيدا کيږي او بله دا چې د غريبانو او مسکينانو ضرورتونه په پوره کيږي.

## د حج ګټې يوازې په اورېدولو سره نه معلومېږي

د حج د اغېزو او ګټو په اړه قران مجيد بالکل جلا طريقه غوره کړې ده. هغه دا چې د حج ګټې يې ښکاره نه دي بيان کړي بلکې تر هر څه د مخه يې وحضرت ابراهيم عليه السلام ته چې د حج د اعلان کوم حکم کړئ وو هغه يې داسي ذکر کړی دئ:

وَأَذِّن فِي ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَجِّ يَأۡتُوكَ رِجَالٗا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٖ يَأۡتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٖ ﴿٢٧﴾ . ( سورت حج ايات ۲۷ )

ژباړه: او په خلکو کي د حج (د اداء کولو لپاره) ږغ وکړه چي (تا ته حاجيان) راسي پياده او (سپاره) پر هر ډنګر اوښ باندي د هرې ليري (ژوري) لاري څخه.

په دې مبارک ايات کي يې د حج د حکم تر اعلانولو وروسته لومړی دا زېری ووايه چي خلک حج ته راځي! حتی د دومره ليري سفره څخه به هم راځي چي اوښان به په ډېر تنګ سره ډنګر او کمزوري سي او بيا يې د دوئ د راتګ د ګټو په اړه داسي وفرمايل:

لِّيَشۡهَدُواْ مَنَٰفِعَ لَهُمۡ ﴿٢٨﴾ . ( سورت حج ايات ۲۸ )

ژباړه: تر څو دوئ د خپلو ګټو په خپله ليدنه وکړي.

وګورئ! د لمانځه، روژې، زکات او نورو عبادتونو ګټې یې بیان کړې مګر د حج د ګټو د بیانولو پر ځای یې داسي وفرمایل چي دوئ باید خپله حج ته راسي او په خپلو سترګو د حج ګټې وویني. ددې وجه داده چي د حج ګټې داسي دي چي که یې څوک بیانوي نو اورېدونکی نه په پوهیږي. ګویا ددغو ګټو په ویولو او اورېدولو څوک پوهیږي نه بلکي ددغو ګټو اړیکي د تجربې او لیدو سره دي.

## مثال

ددې مثال داسي وبولئ، لکه ستاسو څخه چي یو څوک پوښتنه وکړي چي ام وڅه ته ویل کیږي؟ که ته دا جواب ورکړې چي دا یوه مېوه ده چي د ګرمۍ په موسم کي راځي او په شکل کي ام تر خټکي هم کوچنی دئ او یو څه اوږد هم دئ. ددې په اورېدو به هغه درته ووایې چي بادرنګ هم تر خټکي کوچني وي او هم اوږده وي. ته به ورته وایې چي هغه یو څه اوږد هم وي او ژړ رنګ هم لري. هغه به درته ووایې چي دا خو د سیبو په ډول دئ. ته به ورته وایې چي یا وروره! سربېره پوست لري، هغه پوست ایسته کیږي او دننه نرم دئ او په پای کي یې مندکه (دانه) ده. نو هغه به درته وایې چي املي (یو ډول تروه مېوه ده) هم همدا ډول وي. مطلب دا چي ته د ام هر څومره نخښې ورته ووایې په دې سره هغه د امو په حقیقت نه سي پوهېدلای او نه دا معلومیږي چي د امو خوند څنګه دئ؟ مګر که ته ده ته یو دانه ام ورکړې چي دا وخوره، نو په دې سره هغه د امو په حقیقت به پوهېدلای سي او نور هیڅ خبرو ته اړتیا نه پیدا کیږي.

## د بیت الله د حج حیرانونکي اغېزې

د حج په اړه قران مجید همدغه تګ لاره غوره کړې ده او ګواکي داسي یې فرمایلي دئ چي که تاسو ته د حج ګټې بیان سي، نو تاسي یې نه سی درک کولای. هو! که پخپله حج ته ولاړسی نو بیا درته معلومېږي چي د حج ګټې کومي دئ؟

ستاسو زړه به شاهدي اداء کوي چي په ما کي انقلاب (بدلون) را روان دئ. ستا په کړووړو کي به بدلون راځي، ستا فکر بدلیږي، ستاسو جذبات بدلیږي، او دا به وایې چي دلته په راتلو سره زه بدل سوئ یم او حج ته په تللو سره دا احساسوي چي زه اوس هغه څوک نه یم چي په خپل وطن کي وم او زه اوس بل ډول یم. دا او ورته نور ټولي د بیت الله شریفي د حج حیرانونکي ګټې دي.

## ساده کې مګر...

حال دا چي بیت الله شریفه یو ساده تعمیر دئ. په ظاهري لحاظ په کعبه شریفه کي د ښایست او د تعمیراتي فن شاهکاري نه معلومیږي. صرف د تورو ډبرو یوه داسي خونه ده چي کلکین لا هم پکښي نسته، یوه دروازه لري چي پر هغې هم پرده ځړیږي. مګر سترګي دي چي دد ې خوني په لیدو نه ستړي کیږي، نه په مړیږي او نه هم ایسته کېدل غواړي. او په وار وار کتو سربېره بیا هم زړه نه په مړیږي.

## حیرانونکی مقناطیسیت

پــه نــړۍ کــي خــورا ډېرحیرانــونکي تعمیــرات ســته چــي اووه حیرانــونکي تعمیــرات پکښــي مشــهور دي (لکــه تــاج محــل، د چــین د دېــوال، د مصــر اهرامونــه او ځنــي نــور...) او اوس خــو نــړۍ د عجایبــا تو څخــه ډکــه ده مګــر د هغــو ټولــو دا حــال دئ چــي ویــوه ډېــر ښایســته منظرې او ډېــر ښــکلي تعمیــر تــه پــه یــو واره، دوه واره، درې واره، لــږ تــر لــږه پــه پــنځلس واره کتــو ســره زړه مړیــږي. حتــی چــي آخــر د چــا زړه نــه غــواړي چــي نــور دي ودې ښــکلي تعمیر او منظرې ته وګوري.

مګــر ددې تــورو تــورو ډېــرو پــه خونــه کــي یــو عجبــه شــانته کشــش دئ چــي ســتر ګي خپلي خــوا تــه کشــوي! د انســا ن څخــه زړه داســي وړي چــي و کــور تــه پــر راتلــو ســربېره یــې زړه هملتــه وي. او چــا تــه داســي معلــومیږي چــي خپلــه خو راغلی یم مګر زړه مي هم هلته پر اېښی دئ.

## ګټه د تقوا او اخلاص په اندازه ده

نــو پــر همــدې اســاس یــې د حــج د ګټــو پــر ځــای داســي فرمــایلي دئ : (چــي دوئ پــه خپلــه راســي او د حــج ګټــي ووینــي). هــر څــوک د خپــل دینــي استعداد سره سم د حج ګټي او اثــرات لیدلای سي. پــه چا کي چي څومره ډېر اخــلاص، تقــوا او جذبــه وي او پــه څومره احتیــاط چي دئ حج کوي پــه هغه اندازه دئ د حج اغېزې لیدلای سي.

## هره پلا نوې ګټه

بله خبره داده چې هر څو واره وحج ته ځي نو هر ځل به نوي ګټې او اغېزې ويني او هر کال به وينې چې ګټې ډيرېږي، ځکه د حج د ګټو هيڅ اندازه او پای نسته. هر شخص د خپل ديني استعداد سره سم د حج د ګټو او اغېزو په ليدو سره په خپل ايمان کي تازه ګي پيدا کوي.

## د حج د قبلېدو نخښې

زه تاسو ټولو حاضرينو ته دد مبارکي فريضې د اداء کولو مبارکي وايم او دعا کوم چې الله تعالي دي ستاسو ټولو حجونه قبول کړي. د حج د قبلېدو نخښې په لاندي ډول دي:

## لومړی نخښه

په احاديثو کي د حج د قبلېدو يو نخښه يا علامه دا راغلې ده، چې په جمراتو کي چې شيطانان په کومو ډبرو ويشتل کيږي د هغو په اړه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د چا حج چې قبليږي نو د هغه دغه ډبري پورته کيږي او کومي ډبري چې هلته پاتيږي او پرتي وي دا د هغو خلکو وي چې حج يې نه وي قبول سوئ (١)، نو ځکه علماء کرامو دا مسئله ليکلې ده چې دد ځای په ډبرو رمي (ويشتل) مه کوئ، ځکه دا د هغو خلکو ډبري دي چې حج يې نه وي قبول سوي.

١: رواه البيهقي

په قران مجید کي د بیت الله په اړه الله جَلَّ جَلَالُهُ داسي فرمایي:

فِيهِ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ ﴿٩٧﴾ . ( سورت آل عمران ایات ۹۷ )

ژباړه: په هغه کي ښکاره نخښې دي.

نـو د حـج د ښـکاره نخښـو څخـه يـو نخښـه داده چي د چا حـج قبـول سـوي وي نو د هغه ډېري پورته کيږي.

## دوهمه نخښه

د حـج د قبلېـدو دوهمـه نخښـه چـي مـوږ د خپلـو بزرګـانو څخـه اورېـدلې ده داده چـي د حـج څخـه تـر راتلـو وروسـته د انسـان پـه اعمـالو کـي ښـه والـی پيـدا سـي. د فرايضـو او واجبـاتو پـه اداء کولـو کـي چـي مخکـي څـومره پابنـدي وه، اوس دا کوښـښ تـر هغـه زيـات سـوئ وي. مخکـي چـي بـه د ګنـاه څخــه د ځــان ســاتولو څــومره کوښــښ کېــدئ اوس تــر پخــوا دا کوښــښ ډېرسوئ وي. کـه پـه چا کـي تـر حـج وروسـته دغـه صـفتونه پيـدا سوه نـو دا ددې نخښه ده چي هغه قبول سوئ حج راوړی دئ.

## دريمه نخښه

د حـج د قبلېـدو يـوه بلـه نخښـه هـم سـته، دا هـم مـوږ د خپلـو بزرګـانو څخـه اورېـدلې ده. هغـه دا چـي هلتـه د بيـا ورتللـو شـوق ډېرسـي، نـو ځکـه مـوږ تـه پـه کـار ده چـي خپـل اعمـال وګـورو او د خپلـو اعمـالو څارنـه وکړو چـي تـر حـج وروســته زمــوږ پــه اعمــالو کــي کــوم بــدلون راغلــی دئ؟ د فرايضــو او واجبـاتو پـه اداء کولـو کـي چـي تـر حـج مخکـي څـومره پابنـدي وه ايـا اوس پـه دې پابنـدي کـي ښـه والـی راغلـی دئ کـه څنګـه؟ د حـج څخـه مخکـي چـي

د ګناهونو څخه د ځان د ساتولو کوم کوښښ کېدی ایا اوس په دغه کوښښ کې یو څه ډېروالی راغلی دئ که څنګه؟ که چیري دغه بدلونونه راغلي وي نو بیا دا د قبول سوي حج نخښې دي. الله تعالي دې و موږ ټولو ته داسې حج را نصیب کړي.

## هیڅ د مایوسۍ خبره نه ده

مګر که الله جل جلاله مه کړه په اعمالو کې ښه والی نه وي پیدا سوئ او د اعمالو هغه حالت وي کوم چې تر حج مخکې وو نو بیا هم هیڅ د مایوسۍ خبره نه ده ځکه چې د توبې دروازې خلاصې دي او همدا اوس توبه وکړه نو مخکني ټول ګناهونه دې بخښل کیږي.

## د الله جل جلاله د ولي کېدو اسانه لار

حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه به فرمایل چې خلک داسې فکر کوي چې ولي الله جوړېدل خورا مشکل کار دئ ، ددې درجې د پاره د کلونو مجاهدو، کوښښونو او تکلیفو ګاللو ته ضرورت دئ. حال دا چې دا خبره هیڅ صحیح نه ده.

د ولي الله معنی ده د (الله دوست) او د الله دوست کېدل د هر چا په اختیار کې دي ، هر وخت چې وغواړې ولي الله جوړېدلای سې. که اوس ته وغواړې همدا اوس ولي الله جوړېدلای سې. ده به فرمایل چې که په یوه دقیقه کې انسان د الله رب العزت په حضور کې شرمنده سي او د ټولو

ګناهونو څخه توبه وکړي نو د ګناهو څخه به پاک سي، ځکه چې په حديث شريف کي راځي: **التائب من الذنب كمن لا ذنب له.** (مشكوة، باب الاستغفار و التوبة، حديث ۲۳٦۳)

ژباړه: د ګناه څخه توبه کونکی د ګناهونو څخه داسي پاکيږي لکه ده چي هيڅ ګناه نه وي کړې.

## د حج د قبلېدو مطلب

دلته بايد په يوه خبره ځان پوه کړئ چي هغه يو د حج قبلېدل دي او بل د حج اداء کېدل دي. دواړي خبري جلا جلا دي. حج خو هغه وخت اداء کيږي چي ته د حج ټول اعمال د شرعي اصولو سره سم اداء کړې. د حج دوه مهم رکنونه دي، يو د عرفات درېدل دي که څه هم د يوې دقيقې لپاره وي او دوهم طواف زيارت دئ. پاته نور ځني واجبات، ځني شرايط، او ځني سنتونه او مستحبات دي (۲).

ځکه نو که د حج رکنونه، فرايض او واجبات د شرعي اصولو سره سم اداء کړئ نو د حج فريضه اداء سوه. مګر که دا حج قبول نه سي نو ثواب يې نسته، نو ځکه د قبول حج مطلب دا دئ چي پر هغه اجر او ثواب سته.

(۲): بعضي کتابونه د حج فرايض درې ليکي دا ځکه چي احرام شرط دی او په فرايضو کي يې داخلوي نو وقوف عرفات او طواف زيارت د حج ارکان دي او احرام يې شرط دی چي درې سره بيا فرض بلل کيږي. (معلم الحجاج، ص:۹۵ او زبدة المناسک ص: ۷۹)

## د شکر کولو ګټې

او کـه تـه تـر حج کولـو وروسـته پـه خپلـو اعمـالـو کـي ښـه والـی ووينـې، نـو پـر دې بانـدي د الله تعـالي شـکر اداء کـړه. د شـکر پـه اړه د الله تعـالی وعـده ده چـي کـه تـه پـر يـوه نعمت شـکر اداء کـړې نـو مـوږ بـه د غـه نعمت نـور هـم در ډېر کړو لکه څنګه چي الله جل جلاله فرمايي:

لَئِن شَكَرۡتُمۡ لَأَزِيدَنَّكُمۡ ۝٧ ( سورة ابراهيم ايات ۷ )

ژبـاړه: کـه چيـري تاسـي شـکر ادا کـړئ نـو خامخـا بـه تاسـي تـه نعمـت در زيات کړم.

نـو لـه دې کبلـه د شـکر ګټـه بـه دا وي چـي سـتا پـه اعمـالو کـي بـه نـور ښـه والـی راسـي. د نيکـو اعمـالو پـه کولـو کـي نـوره جذبـه هـم پيـدا کيـږي او د ګناهونو څخـه نفرت نور هم ډيريـږي. چـي هر څومره شـکر اداء کـوې پـه هغـه انـدازه بـه هغـه نعمـت ډيريـږي. نېـک اعمـال بـه ډيريـږي او ګناهونـه بـه کميـږي. حتـی يـو وخـت بـه داسـي راسـي چـي عبـادت بـه يـو ډول خونـد درکـوي او د ګنـاهونو څخـه بـه دي سـخته کرکـه او نفـرت کيـږي. او کـه الله جل جلاله مه کړه يو وخت پـه ګناه اختـه هم سې نو هغه به هم هيڅ خوند نـه درکوي.

## ګناه د خوند شی نه ده

رښتیا خبره دا ده چې ګناه د خوند شی نه ده. که انسان په روحاني لحاظ روغ وي نو دده به د ګناه څخه همېشه کرکه او نفرت کیږي، ځکه د ګناه کولو تر مخه پرده باندې دا تصور غالبږي چې دا خو د خپل رښتني خالق او مالک نافرماني کوم او د دواړو جهانو د تاجدار او سردار ﷺ امتي هم یم او د هغه مخالفت کوم! دا یو داسې تصور دئ چې بیا ده ته ګناه خوند نه ورکوي.

## د ګناه د خوند مثال

که الله جل جلاله مکړه و یو چا ته ګناهونه خوند ورکوي نو دا د روغ بدن نخښه نه ده بلکې د مریضۍ نخښه ده. حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه ددې ډېر ښه مثال ویلی دئ، فرمایلې چې ګورئ! که جوړ سړی بدن وګروي نو هغه ته هیڅ خوند نه ورکوي مګر که دده په وینه کې د تېزابیت په وجه خارش پیدا سي نو ده ته بدن ګرول څومره ښه خوند ورکوي؟ مشهوره مقوله ده چې:

جو مزه هي کاج مي – نهي هي وراج مي

د خارش مریض ته چې د بدن ګرول څومره خوند ورکوي بل هیڅ شی دومره خوند نه ورکوي، مګر دا خوند د ده د مریضېدو نخښه ده! (دی مریض دئ)، نو ځکه دی ډاکټر ته ځي او خپل علاج کوي او دا ورته وایې چې زما د ویني د خرابۍ له امله چې ما ته د بدن ګرول کوم خوند

راکوي نو همدغه خوند را څخه ایسته کړه. نو همدا ډول که ګناهونه خوند درکوي نو ددې خوند د ختمولو علاج هم ضروري دئ.

## انسان د خپل ماحول څخه متاثره کیږي

دا د انسان طبیعت دی چې دئ د خپل ماحول یا شا وخوا څخه متاثره کیږي. د صحابه کرامو ﷡ کیفیت هم دا ډول وو چې یو صحابي د رسول اکرم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او عرض وکړی چې: یا رسول الله ﷺ! کله چې موږ ستا په خدمت کې یو نو موږ داسي احساس کوو ګویا موږ جنت او دوږخ په خپلو سترګو وینو مګر کله چې کور ته ولاړ سو او د خپلي بې بې او ماشومانو سره په خبرو اخته سو نو دا خبري مو هیري سي. (۳)

## د حج اثرات په اصل کې د تقوا کیفیت دئ

تاسو حضراتو حج ته تشریف یو وړئ نو د هغه ځای د ماحول اغېزې پر تاسو پرېوتلې او تر اوسه هغه اثرات پر تاسو پراته دي. مخکې تر دې

(۳): په صحیح مسلم کي ددې اړوند یوه واقعه د حضرت حنظله او حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنهما په اړه راغلې ده. په دې واقعه کي دا هم دي چې حضرت حنظله ﵁ ته د خپل کیفیت پر بدلېدو باندي د نفاق بېره پیدا سوه چې ددې خبري یادونه یې حضرت ابوبکر صدیق ﵁ ته وکړه او خپل حالت یې ورته بیان کړئ. دوئ په جواب کي ورته وویل چې د رسول الله ﷺ د مجلس څخه تر را ولاړېدو وروسته زموږ کیفیت هم بدلیږي. دواړه مبارکان د حضور ﷺ په خدمت کي حاضر سول. د رسول الله ﷺ له خوا په اطمنان ورکولو سره د دوئ تسلي وسول. (انظر صحیح مسلم باب فضل دوام الذکر والفکر في امور الاخرة والمراقبة و جواز ترک ذالک في بعض الاوقات والاشتغال بالدنیا. رقم الحدیث: ۲۷۵. ایضاً في جامع الترمذي، رقم الحدیث: ۲۵۱۴، و في مسند احمد بن حنبل ج: ۴، ص: ۳۴۶.)

چي هغه اثرات در څخه پورته سي، د هغه ساتنه خامخا وکړئ. دا اثرات اصلاً د تقوا کيفيت دئ ، ددې اثراتو ساتنه ډېره ضروري ده. په قران مجيد کي د هغه د ساتني طريقه بيان سوې ده. الله تعالی فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ

( سورت توبه ايات ١١٩)

ژباړه: اې مؤمنانو! د الله جل جلاله څخه وبېرېږئ او د رښتني خلکو سره واوسېږئ.

په دې ايت شريف کي لومړی دا ذکر سول چي اې مؤمنانو، د الله جل جلاله څخه وبېرېږئ. د الله تعالی څخه د بېرېدولو معنی دا ده چي د هغه نافرماني مه کوئ او د ګناهونو څخه ځانونه وساتئ.

## تقوا څنګه وکړو؟

دلته دا پوښتنه پيدا کيږي، چي زموږ چاپيريال او ماحول د ګناهونو څخه ډک دئ. چي هري خواته ځونو د ګناه دعوت او د ګناه ډېرښت دی. ستر ګي د ګناه څخه را ګرځول آسان کار نه دئ ، غوږونه د ګناه څخه را ګرځول آسانه کار نه دئ. يو ځای ساز او موسيقي شروع ده، يو ځای غيبت شروع دئ ، يو ځای ښکنځل دي او بل ځای درواغ دي. خپل نس د حرامو څخه ساتل آسانه نه دئ، په ځينو ځايونو کي رشوت، په ځينو ځايونو کي سود او په ځينو ځايونو کي ناجايزه مزدوري يا وظيفه وي. د ځينو کارونو او وظيفو څخه غلا کيږي (تنخوا خو پوره اخلي مګر کار

پوره نه کوي) او داسي نور. لنډه دا چي د تقوا د کولو حکم ډېر لنډ دئ مګر کله چي د عمل ځای راسي نو د ګناهونو څخه ځان ساتل آسانه نه معلوميږي. ګواکي د ټولني حالت داسي دئ چي هر ځای مرداري (نجسي) اوبه ولاړي دي او ته بايد په دې اوبو کي تېر سې، مګر خپل بدن، کالي او چپلی به د دغو مردارو اوبو څخه ساتې چي دا يو آسانه کار نه دئ.

## د قران مجيد ځانګړی اسلوب

د تقوا کولو حکم کونکی رب الارباب (د ټولو پالونکو پالونکی) دئ. زموږ پيدا کونکی او مالک دئ ، زموږ په بدن کي د ګناهونو جذبه هم الله پاک ﷻ پيدا کړېده او هغه زموږ په کمزوريو هم خبر دئ او د دې کمزوريو علاج هم ور ته معلوم دئ. حال دا چي د قران مجيد اسلوب داسي دئ چي کله الله تعالی يو داسي حکم صادر کړي چي د هغه په عملي کولو يو څه تکليف او مشکلات وي نو د دې حکم تر څنګ يو بل حکم هم کوي چي د دې دوهم حکم په عملي کولو سره لومړی حکم ډېر اسانه کيږي.

## د تقوا د اختيارولو طريقه...

### لومړی طريقه: د الله تعالي د دوستانو سره ناسته ولاړه کول

په مخکني ايت کي چي يې دا حکم وکړئ چي تاسو تقوا اختيار کړئ (د ګناهونو څخه ځان وساتئ) نو تر څنګ يې يو بل حکم هم وکړئ چي په هغه سره عمل کول (تقوا کول) اسانه سول، هغه حکم دا دئ:

وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾ د توبې سورت، ١١٩ ايات

ژباړه: او د رښتينو (صادقو) سره واوسيږئ.

يعني د الله تعالى د رښتني دوستانو سره ناسته ولاړه کوئ. د الله تعالى د دوستانو سره تعلق جوړ کړئ، د هغو سره مينه او محبت پيدا کړئ، د هغو ليدو ته ورځئ، د هغو سره ملاقات کوئ، د هغو خبري اورئ او داسي نور. کله چي دا کار وکړئ نو په تاسو کي تقوا په خپله پيدا کيږي. د الله تعالى د دوستانو سره چي څومره ستاسو ليدل کتل ډېر وي په هغه اندازه به د ګناه څخه ځان ساتل ستاسو لپاره آسانه وي (چي اوسې نو په خوی به د هغو سې).

# يوه قصه

د الله تعالی د دوستانو سره خپل منزل ته رسېدل دومره په آسانۍ سره طی کېږي چې په لاره کې په راتلونکو مشکلاتو څوک خبرېږي لا هم نه، چې کله مشکل راغلی و او کله ولاړ ئ؟ موږ يو وخت د خپل مرشد حضرت ډاکټر عبدالحی عارفي صاحب رحمة الله عليه په خدمت کې حاضر وو. هلته دا خبره کېده چې د الله تعالی د دوستانو سره په اوسېدو کې څومره ګټې دئ ؟ په دې اړه دوئ يوه قصه راته واورول، دوئ ويل: کوم وخت چې موږ په هندوستان کې اوسېدولو نو موږ يو وار د ګرمۍ په موسم کې د تفريح لپاره مسؤدې ته تللي وو (مسؤدې په هندوستان کې يو تفريحي ځای دئ او دا ځای نسبت نورو ځايونو ته يخ هم دئ) هلته چې موږ د کوم ملګري سره اوسېدولو هغه يوه ورځ سهار وختي د منظرې لپاره بهر ته وايستولو. پروګرام داسي وو چې نن به ټوله ورځ سيل کوو.

هلته په غره کې يو ځای داسي راغلی چې د يوه غره او بل غره ترمنځ ډېر ژور غار وو او د دواړو غرو ترمنځ صرف يو فوټ فاصله وه. که په غلطۍ سره د چا پښه د يوه غره څخه پورته سي او د بل غره پر ځای په دغه ژوره فاصله کې ونښلي نو په زرګونو فوټه ژور ځای کې به ولوېږي. موږ مخکې ژر ژر روان وو، کله چې دغه ځای ته رانژدې سو نو کوربه راته وويل چې دلته يو داسي ځای را روان دئ چې د دوو غرو تر منځ ډېر ژور ځای دی يو څه احتياط کوئ. کله چې دغه ځای رانژدې سي نو بيا مو زه خبروم. هغه ځای راغلی نو ده خبر کړو او موږ پر دغه ځای په آساني سره

تېر سو ځکه فاصله ډېره نه وه (فاصله د يو فوټ په اندازه وه مګر ډېر ژور وو).

خو په بيرته تلو کي زما په ذهن کي دا اندېښنه وه چي ماښام ته نژدې به روانيږو نو په دا توره شپه کي به پر دې ځای څنګه تېريږو؟ نو موږ د ماښام پر وخت بيرته را روان سو. په تلو تلو کي مي دغه ملګري (کوربه) ته وويل چي د هغه خطرناکي فاصلې پر ځای لږ احتياط کوه (ځکه توره شپه ده). ده جواب راکړ چي: صاحب! هغه ځای خو تېر سو!

نو معلومه سوه چي کله رهبر کامل وي نو دده سره پر څنګ تللو کي ډېر مشکلات نه رامنځ ته کيږي بلکي څوک په خبريږي لا هم نه چي ايا کوم مشکل وو که يا؟ نو قران مجيد هم د تقوا پر لاره د تللو لپاره دا نسخه فرمايلې ده چي د الله تعالی د دوستانو سره اوسيږئ چي د لاري مشکلات مو په خپله ليري کيږي.

## د الله تعالی دوستان به د قيامت تر ورځي پوري وي

ځني خلک وايې چي نن سبا د الله دوستان چيري پيدا کيږي؟ زموږ پلار (مفتي اعظم محمد شفيع رحمة الله عليه) به فرمايل: که تاسي په اوس زمانه کي په اولياوو الله پسې ګرځئ نو د شيخ عبدالقادر جيلاني، بايزيد بسطامي او مولانا رومي رحمة الله عليهم په څير خلک نه سی پيدا کولای خو تاسي ددې زمانې اولياء الله خامخا پيدا کولای سئ.

او الحمد لله هغوئ سته، تر قیامته پوري به وي، ولي؟ په خپله په دې ایت کي یې دلیل دئ. په دې ایت شریف کي الله تعالی د قیامت تر ورځي پوري و راتلونکو انسانانو ته دا حکم کړئ دئ چي تاسي د الله جل جلاله د دوستانو سره واوسېږئ. که چیري د الله تعالی دوستان نه وي نو بیا خو د هغو سره اوسېدل ممکن نه دئ (او الله جل جلاله داسي حکم نه کوي چي پر هغه عمل کول ناممکن وي).

نو له همدې کبله همدغه ایت شریف دا فرمایي چي تر قیامته پوري به د الله جل جلاله رښتني دوستان موجود وي او ستاسو کار دا دئ چي هغوئ پیدا کړئ. (اصلاً اولیاء الله نن هم سته مګر موږ د ډېرو دنیوي کارونو په وجه د هغو سره د اړیکو جذبه د لاسه ورکړې ده).

## پر صراط مستقیم یې د الله جل جلاله د دوستانو حواله ورکړې ده

سورة فاتحه (الحمد لله...) چي موږ یې د هر لمانځه په هر رکعت کي وایو، په دې کي الله تعالی موږ ته یوه دعا را ښوولې ده چي تاسي داسي وایاست:

ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴿٦﴾ (سورت فاتحه ایت ٦)

ژباړه: (ای الله جل جلاله) و موږ ته د سیده لاري لارښوونه وکړه.

او بیا یې د سیده لاري تشریح داسي ونه کړه چي صراط القران (د قران لاره)، صراط الحدیث (د حدیثو لاره) یا صراط الاسلام (د اسلام لاره) بلکي الله ﷻ پر خپلو رښتنیو دوستانو حواله راکړې ده چي فرمایلي دي : صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ

ژباړه: د هغو کسانو پر لاره (هدایت را کړې) چي تا انعام پر کړی دئ.

## انعام والا خلک

د انعام والا خلکو نخښې یې هم راښوولي دئ. د قران مجید په یو بل ځای کي د الله ﷻ ارشاد دئ:

فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ ( سورت النساء ایات ٦٩ )

ژباړه: نو هغوئ به (د قیامت په ورځ) د هغو خلکو سره وي پر کومو چي الله تعالی انعام کړئ دئ چي انبیاء، صدیقین، شهداء او نېک خلک دي. ددې ایت شریف څخه معلومه سوه چي انعام والا خلک څلور ډلې دي لکه:

١ : انبیاء علیهم السلام
٢ : صدیقین
٣ : شیهدان
۴ : صالحین

کـه څـه هـم اوس انبیـاء علـیهم السـلام موجـود نـه دي مګـر د الله تعـالی د دوسـتانو پاتـه درې ډلـې نـن هـم سـته. نـو قرانکـریم دا وایـي چـي د هغـو لاره پیدا کړی او په هغو پسې سئ، سیده به جنت ته ولاړ سئ.

## د الله ﷻ د دوستانو سره د اوسېدو ځانګړې ګټه

د الله تعـالی د دوسـتانو سـره د اوسـېدو یـوه ځـانګړې ګټـه دا ده چـي کـه چیـري پـه اعمـالو کـي څـه کمـي وي نـو پـه دې سره خـو بـه درجې کمـي سـي مګـر ریسـیږی بـه هغـه ځـای تـه چیـري چـي دوئ رسـیږي. حضـرت ډاکټـر عبـدالحی عـارفي رحمـة الله علیـه ددې یـو مثـال داسـي ورکـوي: فرضـاً د کراچي څخـه یـوه مجهزه اورګـاډی (رېـل ګـاډی) و پېښـور تـه روانـه وي، پـه دې اورګــاډي کــي ډېـري ښایسـتې ډبـې (بګـی) لګېـدلي دئ او هــر ډول اســانتیاوي پکښــي موجـود دي وي. پــه دې اورګــاډی کــي د لــوړې رتبـې امیـران او افسـران سفر کـوي خو ددې اورګـاډی پـه پـای کـي یـې یـوه زړه او زنـګ وهلـې ډبـه هـم لګـولې ده. کـه څـه هـم ددې زړې ډبـې او هغـه نـورو ډبـو تـرمنځ د مځکـې او آسـمان فـرق دئ مګـر پـه دې زړه ډبـه کـي ناسـت مسـافر به هم هغه ځای ته رسیږي چیري چي هغه نور رسیږي.

د رسول الله ﷺ ارشاد دئ: " **الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ.** " . ( مشکاة )

ژبـاړه: (پـه آخـرت کـي بـه) سـړی د هغـو خلکـو سره (ملګـری) وي چـي (پـه دنیا کي یې) د هغو سره محبت کړئ وي.

## د الله تعالی د دوستانو سره په اوسېدو کي د حج د اثراتو ساتنه

د الله تعالی د دوستانو سره په اوسېدو کي يوه ګټه دا هم وي چي د حج څخه چي کوم نېک جذبات موږ راوړي وي او د دوو جهانو د تاجدار او سردار صلی الله علیه وسلم د پاکي روضې د هواګانو اغېزي چي موږ د ځان سره راوړي وي، د هغو د اثراتو ساتنه به کیږي، ځکه چي اولیاؤ الله (د الله تعالي ربښتني دوستان) د رسول الله ﷺ هغه غلامان دي چي خپل ټول ژوند يې د رسول الله ﷺ د سيرت او صورت سره سم تېر کړی دئ (نو د هغو د تقوا اثرات پر موږ هم لويږي).

## د څه ډول خلکو مجلس باید اختيار کړو ؟

د اولياؤ الله څخه هم هغه خلک مراد دئ چي خپل ټول ژوند يې د شريعت په غالب کي اچولي وي او که داسي شخص باوري او مستند ديني عالم هم وي نو د داسي چا مجلس او ملګريتوب اختيارول خو زر واره غنيمت دئ. مګر که چا نژدې يو باوري عالم ولي الله پيدا نه کړئ مګر داسي څوک يې پيدا کړئ چي ځانته تکړه ديني عالم خو نه وي مګر د علماؤ په صحبت کي اوسېدلی وي او علماء کرامو پر ده باور کړی وي نو بيا دده صحبت يا مجلس هم غنيمت دئ.

زموږ مرشد حضرت ډاکټر عبدالحی عارفي صاحب رحمة الله عليه يو لوی عالم نه وو. ده به فرمايل چي ما ۱۴ کاله صرف يو کتاب ويلی دئ او هغه کتاب زما مرشد (پير) دئ ، ما خپل مرشد ويلی دئ.

# د تقوا د اختیارولو طریقه...

## دوهمه طریقه: د تبلیغي جماعت سره وخت لګول

او که د چا تعلق د الله ﷻ د رښتني دوستانو سره په یوه وجه سره مشکل وي، مثلاً: یو ولي الله (د الله ﷻ دوست) ډېر لیري اوسیږي او د هغه سره د اړیکو ټینګولو موقع نه پیدا کیږي نو بیا یوه بله لاره سته. هغه دا چي الحمد لله زموږ د تبلیغي جماعت کار شروع دئ. دا یو خاموش دیني انقلاب دئ. اوس په ټوله نړۍ کي داسي لحظه نه تیریږي چي په هغه کي دي دې تبلیغي جماعت قافلې د الله ﷻ پیغام تر انسانانو نه رسوي.

دا خبره پر خپل ځای صحیح ده چي په دوئ کي د علماوو کمښت دئ مګر په څومره دیني کار چي دوئ اخته دئ، دومره دیني کار په علماؤ پوري تړلی نه دئ (چي خامخا به علماء دغه کار کوي بلکي بې علمه خلک هم دومره د دین خدمت کولای سي لکه څومره چي يې تبلیغي جماعت کوي). د دوئ دیني کار تر شپږو نمبرو پوري محدود دئ. البته ددې شپږو موضوعاتو په برکت سره دوئ نور ډېر شیان هم په نصیب کیږي. نو هغه چا ته چي د اولیاؤ الله مجلس ورته اسانه نه وي، هغوی دئ د تبلیغي جماعت سره ډېر وخت ولګوي.

## په تبلیغ کي د نورو حدودو ساتنه هم ضروري ده

دا ښه په یاد ولرئ، چي د تبلیغي جماعت سره په وخت لګولو کي د الله تعالی د نورو حدودو او قیوداتو ساتنه هم ضروري ده، نو ځکه په تبلیغ کي داسي وخت ولګوئ چي په دې کي د نورو حقوق تر پښو لاندي نه سي، نه د مور او پلار حقوق او نه د ښځې او ماشومانو حقوق. که د دوئ حقوق تر پښو لاندي سول نو په دې سره د قیامت په ورځ مواخذه (نیول) کیږي.

## د حضرت والد صاحب رحمة الله علیه واقعه

حضرت والد صاحب (زما پلار) رحمة الله علیه یو ځل د خپل عمر په آخر کي وفرمایل چي الحمد لله الله تعالی پر ما دومره احسان کړئ دئ چي زه د هغه شکر هم نه سم اداء کولای. زه د دنیا څخه هیڅ ارمان د ځان سره نه وړم. الله جل جلاله زما ټول ارتیاوي او ارمانونه راپوره کړي دي مګر صرف یو ارمان راسره وړم. هغه داسي ارمان دئ چي زما سره به تر قبره پوري ځي (ددې خبري په کولو سره د هغه پر مخ د غم ډېر زیات اثر ښکاریدل).

مور پېره ډېره توجه سره دده خبره اوریدل او ویې فرمایل: (کله چي زما مور په مرض الموت (سختې ناجوړې) اخته وه، په دې وخت کي ما ورته د خدمت لپاره ټول ممکنه اسانتیاوي برابري کړي وې. زه په خپله هم په ورځ کي څو واره ورته حاضرېدم او په خپل لاس به مي ددې خدمت کاوئ. ددې د علاج لپاره مي د دوا او دارو پوره انتظام کړئ وو. ددې یو

لمسـى ووچـي دې لـوى كـړى وواو دې ډېـر زيـات محبـت ورسـره كـاوه، د هغه رخصتي مي واخيستل او د دې په خدمت كي مي ودروى.

د دې لمسـى (زمـوږخـور) پـه لاهـور كـي وه او ډېـره پـر ګرانـه وه، مـا هغـه د لاهـور څخـه ورتـه راوغوښـتل او د دې پـه خـدمت كـي مـي مقـرره كـړه. كـه څـه هم مـا د دې د ضـرورت ټـولې اسـانتياوي برابـري كـړي وي مګـر بيـا هـم زمـا د مـور دا غوښـتنه وه چـي شـفيع دي زمـا د چپـر كـټ (چارپـايې) سـره نـژدې راتـه ناسـت وي. ځكـه چي زه د هغې يـو زوئ وم. مـا دا فكـر كـوئ چي زمـا پـر ذمـه د فتـوا كارونـه دي، د دارالعلـوم (مدرسـې) اداري مسـؤليت هـم دئ، د ملـك و ملـت ډېـر كارونـه هـم مختـه بېـول غـواړي، د معـارف القـران د تفسـير كـار مـي هـم مختـه روان دئ. دا ټـول د ديـن مهـم كارونـه دي نـو د هـم دې وجـه مـا فكـر كـوئ چـي زه مجبـوره يـم مګـر كاشـكي مـا ټـول كارونـه شا ته پرېښي واى او د خپلې مور د چپر كټ تر څنګ كښېنستلى واى).

نـو محترمـو حاضـرينو دا د هغـه چـا فكـر دئ چـي د فقاهـت لوحـه يـې ټولـه نــړى منلــې وه او د هندوســتان او پاكســتان علمــاؤ د (مفتــئ اعظــم پاكســتان (۴) لقـب وركـړى وو. د دې څخــه معلومــه ســوه چــي د د ديــن د كـارونو مختلفـي درجې دي چي هغـه ټولـه بايـد پـه برابـرى تـر سـره سي نـو پـه همدغو حدودو كي بايد د تبليغ كار هم وسي.

(۴) : دا د مفسير القران حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب رحمۀ الله عليه قيصه ده چي د ديوبند د سترې او نړى والي مدرسې مخكني مفتي چي د نړى په سطحه اوس هم يو منل سوي او باوري عالم دى او ډېر كتابونه يې هم تاليف كړي دي چي تر ټولو مشهور تاليف يې د معارف القران په نامه په زړه پوري علمي او تحقيقي تفسير دئ.

## ورځني کارونه

۱- د قران مجید تلاوت: هره ورځ د قرانکریم د تلاوت پابندي وکړئ اوناغه مه پکښي کوئ، که ډېر نه سی کولای نو لږ تر لږه یوه رکوع تلاوت خو وکړئ. د سهار تر لمانځه وروسته چي څومره وخت پیدا کړی، که څه هم دوې، درې دقیقې وي نو بیا هم د قرانکریم د تلاوت کوښښ وکړئ.

۲- د دیني کتابونو مطالعه: په فارغه وختونو کي د دیني کتابونو مطالعه کوئ. الحمد لله په هره ژبه دیني کتابونه موجود دي او هر څوک په خپله مورنۍ ژبه مطالعه کولای سي.

۳- د مناجات مقبول دعاګاني ویل: پر دې سربېره د مناجات مقبول څخه هم هره ورځ د هغې ورځي دعاګاني وغواړئ. په دې کتاب کي هغه ټولې دعاګاني سته چي په قرانکریم کي راغلي دي او هغه دعاګاني هم پکښي سته چي رسول الله صلی الله علیه وسلم کړي دي او امت ته یې ښوولي دي.

حکیم الامت حضرت تهانوي رحمة الله علیه دغه ټولي دعاګاني راجمع کړي دي او پر ۷ برخو یې وېشلي دي او د هرې برخې نوم یې منزل ایښی دئ. مثلاً د شنبې منزل، د یکشنبې منزل، د دوشنبې منزل او داسي نور. دغه دعاګاني په عربي دي او لاندي اردو ترجمه هم ورسره ده. کوښښ وکړئ چي هره ورځ یو منزل وواياست. که په شروع کي یو څه تکلیف وي او پوره منزل نه سي ویل کېدلای نو نیم منزل وواياست. که نیم منزل

ویـل هـم مشـکل وي نـو بیـا څلورمـه برخـه یـې وواياست. زه چې يـو منـزل وایـم نـو شـپږ دقیقـې وخـت را څخـه نیسـي. کلـه چې تاسي ورسره عـادت سـی نـو تاسو ته به هم په شپږو دقیقو کي يو منزل وویلای سئ.

پـه دې کتـاب کـې ډېـري زیـاتي جـامع دعاګـاني دي. د ځـان او دوسـتانو د دیـن او دنیـا د هـر اړخیـزه ضـرورتونو دعاګـاني پکښـي سـته. کـه مـوږ ۲۴ سـاعته دا فکـر وکـړو چـي د الله تعـالی څخـه څـه وغـواړو نـو بیـا بـه هـم هغـه خبري جوړي نه کړو کوم چي په دغو دعاګانو کي راغلي دي .

## په هر حال کي دوه کارونه

پر دې سربېره دوه کارونه داسي دي کوم چي باید په هر حال کي وسي:


۱ : د لمانځـه پابنـدي او هغـه هـم پـه جماعـت سره او کـه د کـوم عـذر پـه خـاطر جماعـت ونـه سي، نـو چـي هـر چیـري یاسـت او پـه هـر حـال کـي یاسـت بایـد لمونځ پرېنږدئ.

۲ : د حرام مال څخه د ځان ساتولو کوښښ وکړئ.

## د حرام مال څخه په پوره ډول ځان ساتل ضروري دي

حرام مال د ځان لپاره وژونکی زهر وبولئ. خپل کور ته هيڅکله حرام مال پرېنږدئ. که هغه په هر شکل هم وي، د رشوت په شکل وي، د سود په شکل وي، د بانک په وظيفه کي که چيري د سودي معاملاتو سره اړيکي وي نو هغه کار هم حرام دئ او ددې کار تنخوا هم حرامه ده. همدارنګه کار غلا کول (لږ کار کول) او پوره تنخوا اخيستل هم حرام دي. د حرامو يو صورت دا هم دئ چي يو څوک د زکات مستحق نه وي او زکات واخلي. او همدارنګه په کاروبار کي په دروا غ ويلو سره، په ناپ او تول کمولو سره پيسې ګټل هم حرامي دي. مطلب دا چي د حرام خوړلو چي څومره طريقې دي د هغو ټولو څخه ځان وساتئ او د لمانځه سخته ساتنه وکړئ نو د الله رب العزت و رحمت ته اميد دئ چي ان شاءالله سيده به جنت ته ولاړ سی. الله ﷻ دي پر دې کړونو د عمل کولو توفيق را په نصيب کړي.

وآخر دعوانا أَنِ الحمد لله رب العالمين




د تعلیم الاسلام ویب پاڼې د همکارانو له خوا پر لیکه کیږي:

www.taleemulislam-radio.com